داکتر تاج الدین ملت مل ۲۰۱۹/۰٤/۰٦

# مؤقت حکومت یا د پاکستان د تروریزم مرکز

لمړی برخه

**په افغانستان کی مؤقت حکومت یا د پاکستان نه د تروریزم د مرکز انتقال او راتلونکي مؤخي یی!**

مؤقت حکومت یا انتقالي اداره دوه مترادف کلمات دي. مؤقت حکومت هغه ساختار دی چي په یوه ملک کی د یوی مشخصی لنډی مودی لپاره د یو لړ مشخصو اهدافو د لاس ته راوړلو په غرض منځ ته راځی. دا چي اوس په افغانستان کی د مؤقت حکومت ډنډوره ګرمه ده، او یو شمیر افغانان یی پدی اړه د راز راز سوالونو سره مخ کړی دي، نو د دی لپاره چي مو د هیوادوالو سره پدی اړه مرسته کړی وی، ښه به دا وی چي دا موضوع د سیاسی اړخ پر ځای په علمی توګه وڅیړو، تر څو بیطرفی وساتلی شو، او ولس ته اړونده مالوماتونه بی پری وړاندی کړو. نو زه پدی غرض خپل بحث په لاندی برخو کی تنظیموم:

١ - د مؤقت حکومت اهداف څه وی؟
٢ - په نړی کی څو ډوله مؤقت حکومتونه وجود لری؟
٣ - د مؤقت حکومت ضرورت څه او کله منځ ته راځی؟
٤ - تر اوسه په نړی کی د مؤقت حکومتونو نتایج څه دی؟
٥ - په افغانستان کی د تیر مؤقت حکومت تجربه او نتایج څنګه وه؟
٦ - په افغانستان کی اوس د مؤقت حکومت مؤجه دلیل شته؟
٧ - اوس په افغانستان کی د مؤقت غوښتونکي څوک او څومره د مؤقت حکومت اهدافو ته ژمن دي؟
٨ - د موقتو حکومتونو د ناکامیو عوامل څه وي؟
٩ - اوس به په افغانستان کی د مؤقت حکومت نتیجه څه وي؟
١٠- افغانانو ته څه کول پکار دي؟

## ■ اول - د مؤقت حکومت اهداف څه وی؟

د مؤقت حکومتونو اساسی هدف د انتقالی عدالت تامین وی، تر څو په هیواد کی د دایمی عدالت لپاره مناسب نظام را منځ ته کړی. چي دا عدالت عبارت دی د بشر د حقوقو تامین، د جرایمو، جنایاتو او مجریمینو مخنیوی، د حقیقتونو روښانه کول، د

جنګ جګړې ختمول، د خشونتونو پر ځای اجتماعی ژوند (سولې، ثبات او امن ) ته تګ، په نظام کې د بې عدالتې پر ځای د عدالت د سیستم تآمین او واکمن کول، د مملکت اداری سستم سمول، او په ټوله کې په ملک کې د یوې ولسواک نظام منځ ته راوړل شامل دی .

## ■ دوم - په نړی کی څو ډوله مؤقت حکومتونه وجود لری؟

### مؤقت حکومتونه په څلور ډوله دي:

- ۱- *انقلابی انتقالی اداره:* هغه حکومتونه دی چي اکثراً د کودتاو یا انقلاب په نتیجه کی منځ ته راځي او د یو وخت لپاره واک په غیر دیموکراتیکه توګه په لاس کی اخلی، لکه د سردار محمد داود خان، او یا هم د خلق د دیموکراتیک حکومتونو اولی دوری.
- ۲- *د قدرت شریکولو مؤقته اداره:* دا هغه اداره وی چي زوړ حکومت د خپلو مخالفینو سره په ګډه یوه اداره منځ ته راوړی. لکه په یو څه غلطی سره د ښاغلی حامد کرزی مؤقته اداره (نیمګړتیا او یا غلطی یی دا وه چي طالبان یی په واک کی شامل نه کړل).
- ۳- *نسبی شراکت حکومت:* دا هغه سستم دی چي په واک کی اداره د مخالفینو سره قدرت د خپلو شرایطو لاندی شریکوی. (لکه په اوسنی وخت کی د ښاغلی داکتر اشرف غنی وړاندیز مخالفینو ته)

- *نړیوال مؤقته اداره:* دا هغه اداره ده چي تر ډیره حده د نړیوال تفاهم په ناتیجه کی منځ ته راځی او اختیارات یی هم د نړیوالو سره وی. (چي تر یوه حده د کرزی انتقالی دوره د دی یو نمونه هم وه).
- *د مؤقت حکومت ضرورت څه او کله منځ ته راځی؟*

مؤقت حکومتونه هغه وخت ضرورت پیښیږی چي د یوه هیواد خلک (چارواکی او مخالفین) په خپل منځ کی جوړ نه راځي، په واک کی خلک د خلکو حقوق غصبوی، او مخالفین یی د خلکو د حقوقو د تأمین لپاره مجادله کوی، او یا داچي یوه نوی اداره چي اصلاً په دیموکراسی او انتخاباتو باورمنده وی، د اقتدار د لاس ته راړلو نه پس د انتخاباتو تر دایرولو پوری یوه مؤقته غیر انتخابی اداره جوړوی.

- ۴- *تر اوسه په نړی کی د مؤقت حکومتونو نتایج څه دي؟*

تر اوسه په نړی کی ۵۸ موقتي اداري یا انتقالی اداری حکومتونه منځ ته راغلی دی چي د هغوی مکمل لست د نوشتی په پای کی ضمیمه دی. خو متآسفانه د دی حکومتونو اکثره یی ناکام او یا هم ډیر کم شمیر یی خپل اهداف یو څه لاس ته راوړی دي، خو په خوا کی یی نوری ستونزی هم رامنځ ته کړي دي.

- ۵- *په افغانستان کی د تیر مؤقت حکومت تجربه او نتایج یی:*

په افغنستان کی مونږ د څلورو مؤقتو ادارو تجربه لرو. چي په خواشینی سره په افغانستان کی هم د تیرو دریو انتقالی او مؤقتو ادارو نتیجي منفی وي.

- لومړی مؤقته اداره هغه اداره وه چي د سردار محمد داود خان د کودتاه په تنیجه کی منځ ته راغله. سره لدی چي دا یوه نسبتاً کامیابه اداره وه، خو بیا هم په نتیجه کی یی داود خان اقتدار ځان ته منحصر وساته.
- دوهمه مؤقته اداره د خلق د دیموکراتیک ګوند د کودتاه په نتیجه کی منځ ته راغله، چي هغه هم په خواشنی سره د خلق د دیمکراتیک ګوند د انشعاب او په هیواد کی د سرتاسری پاڅون او په نتیجه کی د شوروریانو په مداخله، د میلیونونو انسانانو په مجبوری هجرتونو، او ډله ایز وژنو او د رنګارنګ بربادیو سبب شو.

- درېمه مؤقته اداره بیا د مجاهدینو په مشرۍ د داکتر نجیب الله ځخه د واک د انتقال لپاره منځ ته راغله.  پدغه اداره کې ملګرې ملتونه پدې و نه توانیدل [نه سو کولای] چې پدې اړه خپل اړوند پلان او نقشه سم تطبیق کړای شي، چې په نتیجه کې یې د یوې مرموزې کودتاه له لارې انتقال په حقیقت کې د نظار شورا له خوا تصاحب ولې په ظاهرې توګه مجاهدینو ته انتقال شو، چې له امله یې نه دا چې د مؤقتې ادارې یوه لاس ته راوړنه هم ونه شوه، بلکي لا ډېرې زیاتې ستونزې یې وزیږولې.   همدا راز ملګرې ملتونه د داکتر نجیب الله په مصونیت کې ناکام راغلل، او داکتر نجیب الله هم په اصطلاح د طالبانو په لاس (په حقیقت کې د پاکستان د ای اس ای له لاسه) ووژل شو.
- *څلورمه مؤقته اداره هم د یوه نړیوال سازش او د بن د کنفرانس په نتیجه کې منځ ته راغله، چې په خواشینې سره د دې سازش نه لاس ته راغلې حکومت هم نه یوازې دا چې د مؤقتې ادارې اساسي اهداف تر لاسه نه کړل، بلکه هیواد ته یې د یوې اوږد مهاله تراژیدې (د ادارې وېش د قومونو او سیاسي ډلو تر منځ د وېش او د جنګي مجرمینو د معافیت او اقتدار کې د شریکولو) غلط اساس او بنیاد کېښوده.  نو د کرزي د دورې د مؤقت حکومت د جرایمو مسؤولیت هم د هغې د نړیوالو مهندسینو او په خاصه توګه د خلیلزاد په غاړه دی، دا ځکه چې دوي د بن د کانفرانس کې رامنځ ته شوې انتقالي حکومت د انتقالي حکومت د اهدافو په خاطر نه بلکه د هغې د اهدافو په خلاف د داسې اشخاصو د ترکیب نه منځ ته راوړ چې د هغوی اراده او هلې ځلې د مؤقت ادارې د اهدافو لاس ته راوړل نه بلکه د هغوی له منځ وړل وه.*

○ *۶ - په افغانستان کې اوس د مؤقت حکومت مؤجه دلیل شته؟*

افغانستان اوس د یوه منتخب حکومت لرونکی دی، چې د ډېرو نیمګړتیاو سره سره د ټولنې د اساسي اصولیتونو خوا ته مخ په تللو دی.  په اوسني حکومت کې نیمګړتیاوې، د دوی د ارادې له امله نه بلکه د هغو ستونزو له امله دي، چې د ټولو دیموکراتیکو اصولو خلاف د امریکې پخواني د بهرنیو چارو وزیر "جان کیری" په ډیره بد سترګې او دیکتاتورانه توګه داکتر عبدالله په واک د پنځوس سلنه ونډې سره شریک کړ.  چې د دوی د دغې غیر اصولي، او غیر اخلاقي مشارکت او د دوی نقش په حکومت کې د ننه د یوې تخریبي وسیلې په توګه د حکومت د فلج کیدو او په وړاندې یې د راز راز ستونزو د پیدا کولو او ناتوانه کولو سبب شوی دی. نو د دې حکومت د ستونزو او ناکامیو اساسي عامل هم همدغه داخلي مخالفین او د دوی نړیوال پلویان دي.
د افغانستان موجوده حکومت نه یوازې دا چې د مؤقت حکومت د اهدافو مخالف ندی، بلکه په ټوله توانمندۍ د هغوي د لاس ته راوړلو لپاره هلې ځلې کوي. د انجنر ګلبدین حکمتیار را بلنه، طالبانو او نورو مخالفینو ته د سر د امن په تضمین سره په دیموکراتیکه پروسه کې د ونډې ورکونه، د ټولنې د بنیادي ساختارونو جوړونه، اقتصادي پرمختیا، د دیموکراتیکو بنسټونو رغونه او د فساد او مفسیدینو مهارونه د دې حکومت عمده اهداف او لاس ته راوړنې دي.  اما د دوي مخالفین بیا په ټوله کې اصلاً د مؤقت حکومت د دغو بنیادي غوښتنو مخالفین او د هغو ټولو اصولو نقض کوونکي دي. نو دلته د انتقالي حکومت ضرورت اصلاً مطرح کیدای نشی. نور بیا

## یادونه:

که چیرې کران لوستونکې و غواړې چې د دې لیکوال نورې لیکنې هم ولولي، نو کولای سی چې، پر انځور باندې د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکې مقالې او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړې!

مؤقت حکومت یا د پاکستان د تروریزم مرکز؟ (۱)
t_melatmal_moaqathokumat_de_pakistan_terorismemarkaz_١.pdf